عبدالمالک بېکسیار

۲۰۲۰/۱۲/۰۹

# د وخت ضرب




استاد اکبر کرګر راباندې خدای مهربانه کړی، چې کتاب چاپ کړي له وخت څخه په استفادې په ډاګ او یا د چا په لاس یو ټوک رالیږي، په مقابل کې ورته زه دعاوې کوم چې الله پاک دې یې فکر او قلم همداسې ګړندي لري چې په میاشت دوه کې خامخا یو کتاب چاپوي.

د کتابونو پر دغه لړ کې یو کتاب (د وخت ضرب که د ژوند کرب) و، چې د عطایي ملا پر شعري ټولګه (د وخت ضرب) باندې یې لیکلی دی، د استاد کرګر پدغه کتاب کې پر دغو مسایلو بحث شوی: د وخت مفهوم / عشق او عرفان / شعر او عرفان / عشق او اروا پوهنه / رمزونه او رازونه / حسن او عشق / عشق او دعمر نوستالژي / د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ژبې اغېز / د تېر مهال ټولنيز ارمان / اسطوره او له هغو پوهاوی / دهيواد حالات او د شاعر مدينه فاضله / ارزښتونه او انسانيت /لويديز مدنيت او پر هغه نيوکه / د عطايي ملا د شعر فورم او جوړښت.

ما چې کتاب لوسته لوسته او کله چې د کتاب وروستي عنوان ته ورسېدم نو د عطايي د شعر اړوند زما ټولې له مودو مودو زړه کې پرتې وسوسې، پوښتنې او غوښتنې حل شوې چې عطايي ملا په کومو کومو فورمونو کې شاعري کړې ؟، غزلې يې څه ډول دي ؟، نظمونه يې څنګه دي ؟، ازاده شاعري يې کړې که نه ؟، که کړې يې ده اوزان يې کوم دي ؟، دشعر په کوم فورم او قالب کې شاعر برلاسی او تر هغو نورو بريالی دی ؟، زياته شاعري يې په کوم قالب کې ده ؟، او داسې نور...

خو استاد کرګر چې څومره غوښن د کتاب پر نورو برخو او عنوانونو غږېدلی و، هومره يې ځان لدغې تکنيکي او وچې برخې سره نه و مشغول کړی، اوس نو د کتاب د لوست دپاره زما د بې پايه تلوسې د خړوب ايکې يوه لاره لزوم د کتاب و، چې دغه تشه هم د استاد رحماني په برکت او ګران دوست ډاکټر محمد انور په وساطت ډکه شوه، نو ما وې راشه د کتاب داسې يوه پېژندنه وليکه چې د استاد کرګر له پنډ کتاب وراېخوا چې زيات د عطايي ملا د شاعرۍ پر اروايي، رواني اړخ راڅرخي د کتاب فزيکي، هندسي شناخت خلکو ته وښايي چې که څوک بل هم زما په شان ددغه ارزښتمن اثر له مطالعې بې برخې پاتې وي چې خبر شي.

د وخت ضرب د ښاغلي عبدالهادي عطايي ملا د شعرونو ټولګه ده چې په 2015 کال د زر ټوکه په شمېر خپره شوې، کتاب ټولټال 184 مخه دی چې پکې د شاعر له تنکۍ ځوانۍ 1970 کلونو بيا د کتاب تر خپراوي څه کم نيمې پېړۍ شاعري خوندي ده.

د وخت په دغه ضرب کې 69 عنوانه شعرونه راغلي چې له هغې جملې څخه يو نيمه ازاد شعر ته ورته مناجات، 36 غزلې، 26 نيمه ازاد [ موندې] شعرونه، 3 څلوريزې او په پای کې څلور لنډې لنډې نيمه ازاد شعر ته ورته د لويديزو شاعرانو ژباړې.

د کتاب چاپ ډېر ښه ندی، نه يې قطع او صحافت او نه يې کاغذ، سره لدې چې په کمپيوټر ليکل شوی، خو له پخوانيو پر لاس ليکليو کتابونو سره جوت فرق نه لري.

په کتاب کې راغلې ټيپي او املايي تېروتنې پر لاس سمې شوې او د دوباره ټيپ زحمت يې چا ندی ګاللی، زور، زبر، پېښ مانا حرکات پکې ښه ډېر کارول شوي چې بايد نه وای شوي او دا په پښتو کې نشته.

په کتاب پخپله ليکوال يوه سريزه هم کاږلې چې خورا جالب مطالب پکې راغلي او په ضمن کې د وخت ضرب د کتاب د خپراوي وجه تسميه داسې بيانوي:
«انساني هستي بس دوه توري ده مينه او حسن [خدای او نېکي ].

د کايېناتو د خلقت او دوام، د دنيا و اخرت ټول جنجال، د ځمکې او اسمان ټولې نقشې او فيصلې، د بني ادم د خلقت راز، دده ټول دننه او بهر، دده ټول جسم او روح، دده ټول پرون، نن او سبا . . . دده جبلت، دده مسير ممات او مقصد حيات بس ددغه دوه تورو په دايره کې چورلک وهي.

زه چې د وخت د استاد ضرب تر دې ځايه را ورسولم، نو مې د خپل دې سبق د پخېدو او تکرار په غرض د دنيا له مشغلو نه ځان راپرې کړ، د قال د جنجالي ښاريې نه مې د حال و خاموش کلي ته هجرت وکړ . د امريکنو هوښيارو سپين مخو د طلايي قفس نه را والوتم، دلته مې ساده خرمخيو ته پنا راوړه او په خپله خاورينه هجره کې معتکف شوم. . .

خو ژوند او وخت دلته هم ارام پرېنښودم، دادی بيا هغه زوړ استاد، هغه زړه قمچينه... ژوند روان دی او د وخت ضرب چالو... الله دې وکړي رحم.
او وشوه دا چې:

د مينې د سلطان او د حسن د خان سره مې د کلونو کلونو مکاتبې او مراودې زما د غير حاضرۍ او پردېسۍ په ورځو کې د حجرې د محرمو دوستانو د خلوص يا سادګۍ په وجه بهر نامحرمو لاسو ته رسېدلې وې. د رازونو پُس پُسې په کونګوسو بدل شوی و او د مينې او حسن د يادونو او خوندونو پټ پټانې، ياراني او نذراني چې ما له ځانه سره د څو ليکو او تورو په شکل کې پټ ساتلې و[او تر مرګه مې د پټ ساتلو اراده وه] کتل مې چې دېخو اېخوا د نشرېدو او چا پېدو په درشل کې دي . زه مظلوم له دې وېرې چې دا امانت توري د بل چا نا اهل يار يا غدار په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لاسونو مسخه نشي، بالاخره دي ته مجبور شوم چي د خپل هوډ او سليقي برخلاف دا ګستاخي وکوم او دغه ليکلي او توري په خپل لاس چاپ او نشر کړم . . .

هلکان [زما بچي خان او حبيب] لګيا شوه زما د څه کم پنځوس کلن قلمي ژوند نيم سوزلي، نيم ورک، نيم مسخه شوي، نيم غلاشوي، کاغذونو ترانګي راټولوي، زما د جهالت د دوران څه چاپ شوي اوتي بوتي او څه د ميني د سوز او د حسن د ساز قلمي پارچي او تراني دادی صفحه بندي کوي، او زه مظلوم ورته ناست يم د زماني په دود سريزه ورته ليکم.

د ګونګی ميني افاده، د ورک جنون قصه، د حسن د خان ننګ، د جابرو تورو جنګ، د ځان د بت رسمول، جوړول او نړول، د لا، لا د فوج حمله، د اله د غره پيچومي، د مقلد [EGO] شاعر د خود ساخته مستی پرده دري، د مغروره ملا د خود پرسته ضمير نا پاکي، د شهوت په مرداری يخي سترګي، د شهرت له لوړی پرسپدلي خېتي، د قدرت او دولت له تندي راختلي بي شرمه سترګي څه او څه». . .

لکه څنګه چي هلته پورته ووېل شول د عطايي ملا پدغه شعري ټولګه (د وخت ضرب) کي راغلي شعرونه يا غزلي دي او يا هم مونډي شعرونه . " مونډي يا سر پرېکړي شعرونه، هغو نيم ازادو شعرونو ته وايي چي قافيي و نه لري او نور سپلابوتونيک اندول يي سره برابر وي"١.

د وخت په ضرب کي راغلي ټولي ۳۶ غزلي ماتي غزلي دي. "ماته غزل ورته څکه وايي چي په منځه ملا کي يا د هري مسري په منځ کي د اهنګ يوه وقفه راځي، په همدي وقفه کي دڅپو د شمېر له مخي هره مسره پر دوو مساوي برخو وېشل کېږي"٢. په پښتو کي تقريبن ټولي ماتي غزلي يا د ۱۴ څپو وي چي پر ۷ مه څپه ماتي وي او يا د ۱۶ څپو وي چي پر ۸ مه څپه ماتي وي.

زما له نظره د غزلي دغه فورم د فکر شاعری ته لکه د عطايي ملا ښه جوړ دی، او ګومان کوم چي له همدي وجي به ملا دغه فورم خپلي شاعری ته ټاکلی وي.

د بديعي صنايعو له مخي د غزلو دغه فورم خصوصن مدعاالمثل او لف ونشر ته ډېر جوړ دی، هغه داسي چي د عين مسري تر وقفي د مخه مدعا راشي او تر وقفي وروسته يي مثل، همدغه شان لف و نشر هم.

د فکر، فلسفي او عرفان د پاره هم دغه فورم يا چوکاټ پدې تر هغو نورو زيات مناسب ښکاري چي په خيال کي د يوه ډيالوګ، مناظرې يا مباحثي په بڼه د خپلي مدعا د ثبوت دپاره ګام پر ګام مخته روان يي.

او بلاخره اقتصاد مانا په کمو تورو، ټکو، کلمو او جملو کي د ډېر څه بيان چي يو لوی ژبنی بحث دی هم د شعر پدغه فورم کي مراعتيږي، که داسي وګڼو چي د ۱۵ څپو غزل يو بيت د مبتدا او خبر په توګه کاروو نو لومړی مسره به يي مبتدا او دوهمه خبر ته وقفيږي، پداسي حال کي چي د ۱۴ څپو يوې ماتي غزلي د مسري اوله ۷ څپيزه برخه مبتدا او دوهمه ۷ څپيزه برخه خبر ته ځانګړي کولای شو او په يوه مسره کي د ۱۵ څپيزي غزلي بالمقابل دوه مبتداوې او دوه خبرونه ځايولی شو.

په پای کي داهم د عطايي ملا يو غزل:

کاشکي ژوند مي توره شپه شي، او يار ورکه کړي د شپي لار
کاشکي بخت مي سپين سحر شي، او ورک راولي پر دي لار

زړه مي لاس کي را اخيستی، د ليلام ليلام ناري کړم
مونده نشي په درست ملک کي، د دلبرو د کوڅي لار

بېګا ټول خمار وم، سود او زيان ته مي پام نه و
محتسب نه مي پوښتله، ستا د پټي ميکدې لار

دا هستي او نېستي دواړه، د جانان د کلي لاري
يوه ښکلي د باغ پوله، بل سپېره د هديرې لار



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د شیطان سره یې جنګ دی، د ادم د رباب ترنګ دی
د شپېخۍ لاره کچه ده، ښه پخه ده د توبې لار

ای پردېس د غره ګلابه، د شهۍ ځګر ته ځمه
راځه ماته را معلومه، د ګلونو د باغچې لار

ښتنې اوښکې رهي شوې، فریادي د خان درشل ته
د مظلوم خاطر تسل وي، د مجبورو د جرګې لار

---

۱ - زیار مجاوراحمد، پښتو شعر ښکه جوړېږي، ۳۴۴ مخ

۲ - یون محمداسماعیل، د پښتو شعر هندسي جوړښت ۱۵ مخ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ